له تاسو څخه دې هېڅوک په يوه جامه کې لمونځ نه کوي چې په اوږو يې هېڅ شی نه وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "له تاسو څخه دې هېڅوک په يوه جامه کې لمونځ نه کوي چې په اوږو يې هېڅ شی نه وي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه څوک لدې کار څخه منع کړی چې په يوه جامه کې لمونځ کوي او د اوږو او غاړې تر منځ ځای يې لوڅ وي او هېڅ شی يې پرې نه وي اچولی چې اوږې يې پټې کړي؛ که څه هم اوږې عورت نه دی، خو پټول يې د عورت د پټولو لپاره اړين دي او پدې سره الله تعالى ته په ښه توګه درناوی او تعظيم کېږي؛ کله چې بنده د هغه پر وړاندې ودريږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10639